شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د مالیې وزارت


درسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت

ابوهریره رضي الله عنه وايي،چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "ببشکه زه یواځي د ښو اخلاقو د پوره کولو (تکمیل) له پاره رالیږل سوی یم.

یعني: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، چي د نبوت هدف دا دئ، چي د خلکو اخلاق لوړ، ښه او مکمل سي .

[السنن الکبری للبیهقي، ج۱۰، ص۱۹۱]

( د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست، له لوري)


ربیع الاول ۷-۱٤٤۷ل س | د زمري ۹-۱٤۰۴ل ل | د اګسټ ۳۱-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۴۸ ګڼه | ٤ مخیزه



## سرمقاله

### تاثیرات مدیریت مصارف عامه بر بودجه ملی

بودجه عامه در کشور ما نه تنها یک سند مالی است، بلکه یک ابزار سیاست‌گذاری و مدیریت کلان اقتصادی ما است. این سند نشان می‌دهد که امارت اسلامی افغانستان چگونه منابع مالی را جمع آوری کرده و در چه بخش‌هایی به مصرف می‌رساند. در افغانستان بودجه به عنوان مهمترین وسیله مدیریت مصارف عامه، نقشی تعیین‌کننده در تأمین خدمات عامه، توسعه زیربناها و ایجاد عدالت اجتماعی دارد. مدیریت درست مصارف عامه از طریق بودجه عمومی، می‌تواند باعث جلوگیری از ضایعات بیت المال، فساد مالی و عدم توازن در تخصیصات گردد. در شرایطی که منابع محدود و نیازها گسترده اند، شفافیت و پاسخ‌گویی در بودجه‌سازی، اولویت‌گذاری صحیح مصارف و نظارت مؤثر بر اجرای بودجه از اهمیت حیاتی برخوردار است. برای عبور از چالش وابستگی بودجه ای به کمک های خارجی، نیاز است که بودجه عامه نه به حیث یک سند تشریفاتی، بلکه به عنوان یک ابزار راهبردی مدیریت اقتصادی دیده شود. افزایش ظرفیت عایدات داخلی، اصلاحات در نظام مالیاتی، تقویت نهادهای نظارتی و مشارکت مردم و سایر نهاد ها در روند بودجه سازی، می‌تواند اعتماد عمومی را افزایش داده و روند توسعه ملی را تسریع بخشد. در نهایت، بودجه زمانی می‌تواند مدیریت مؤثر مصارف عامه را تضمین کند که هم شفاف باشد، هم عادلانه، و هم با واقعیت‌های اقتصادی کشور هماهنگ باشد. افغانستان برای رسیدن به توسعه پایدار، بیش از هر زمان دیگر به یک نظام بودجه‌سازی مبتنی بر شفافیت، عدالت و کارایی نیازمند است.

با احترام

اداره

## د زیربناوو شریکولو تخنیکی بورډ ناسته وسوه

د مالیې وزارت د پالیسۍ معین انجنیر سلطان محمد زبیر په مشرۍ او د ریاست الوزراء اداري معاونیت، سکتوري وزارتونو او اړوندو ادارو د استازو په ګډون، د زیربنا شریکولو ناسته د مالیې وزارت د کنفرانسونو په تالار خیبر هال کي وسوه. په دې ناسته کي د زیربنایي پروژو د اغېزمن پلي کولو له پاره د همغږۍ میکانیزم، د (۱۴۰۳هـ.ل) کال لاسته راوړنو، د (۱۴۰۴هـ.ل) کال د پلانونو شریکولو بهیر، په ولایتي کچه د زیربنا شریکولو ته پراختیا ورکول او د هیواد په کچه د سته ننګونو په تړاو بحث او خبري وسوې. د پالیسۍ معینیت د عامه پانګوني او زیربنا لوی رئیس صابر نثار وویل، چي په (۱۴۰۳) کال کي ئې له همکارو ادارو څخه (۷۴۳) زیربنایي پروژې تر لاسه کړي دي، چي له هر اړخیز تحلیل وروسته، (۴۷۴) پروژې د شریکولو وړ او تثبیت سوي دي او په ټوله کي (۱۲۱) ستري ملي پروژې، چي سړکونه هم پکښې شامل دي، د هم مسیره پروژو په توګه پېژندل سوي او شریکي سوي دي. د دې شریکولو له لاري، (۷۸۱) میلیونه افغانۍ په ملي سرچینو کي سپما سوې ده. یادي پروژې په عمده توګه په ټولګټو وزارت او کابل ښاروالۍ پوري اړه لري، چي د ډیزاین په پړاو کي د برېښنا، مخابراتو او اوبو رسولو شبکو سره شریکي سوي دي.

## د تقاعد د حقوقو د ورکړي لړۍ پیل سوه

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د (۱۴۴۶ هـ. ق) کال د (۱۲)مي ګڼي فرمان د ښه تطبیق په موخه د مالیې وزارت د تقاعد د حقوقو عمومي ریاست له یوه منظم مهالوېش سره سم، د متقاعدینو د حقوقو د ورکولو لړۍ پیل کړه. د مالیې وزارت به متقاعدینو ته د اسانتیا په موخه د منظم مهالوېش له مخې د ملکي او نظامي متقاعدینو حقوق د ځانګړي محکمې او اړوندو ادارو سره په همغږۍ د تقاعد د حقوقو په عمومي ریاست کي د ګډ کاري مرکز له لاري د طی مراحلو لړۍ له بشپړېدلو وروسته اجراء کړي. په لومړي پړاو کي به د (۹) تثبیت سویو ادارو د متقاعدینو حقوق ته د (۱۴۰۴) کال د سنبلې له دوهمي نېټې څخه د یوې میاشتي په موده کي د ټاکل سویو اصولو له مخې د مالیې وزارت، د تقاعد د ځانګړي محکمې او اړوندي اداري له لوري رسېدنه وسي او تثبیت سوي حقوق به ئې اجراء سي. د لومړي پړاو په لیست کي د (۹) امارتي ادارو ( د ستنډرډ ملي اداره، د پېښو سره د مبارزې او چمتووالي ملي اداره، د بدني روزني او سپورټ عمومي ریاست، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون، د چاپېریال ساتني ملي اداره، د ارګ د ساتني عمومي ریاست، د ملي امنیت شورا دفتر او د اقتصاد وزارت) متقاعدین به ځانګړي محکمې ته خپل عرایض وړاندي کوي او له اصولو سره سم به ئې په یوه کاري مرکز کي د حقوقو د ورکړي پروسه طی مراحل کېږي. د یادوني وړ ده، چي د پاتي نورو ادارو مهالوېش به د لومړي پړاو له بشپړېدو وروسته د روان مالي کال د سنبلې پر (۲۵)مه نېټه اعلان سي. د هغو ادارو متقاعدین، چي اداري ئې په لومړي پړاو کي شاملي نه دي، اوسمهال دي د تقاعد عمومي ریاست ته مراجعه نه کوي.

## د تعرفې کمېټې د یو شمېر اقلامو د تعرفو په اړه مهمي پرېکړي وکړې

د تعرفې کمېټې د روان (۱۴۰۴هـ.ل) کال ځلورمه ناسته د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخوند په مشرۍ او د صنعت او سوداګرۍ؛ کرني اوبو لګولو او مالدارۍ؛ د کانونو او پټرولیم؛ اقتصاد او عامې روغتیا وزارتونو د وزیرانو، د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت د با صلاحیته استازي، د ستنډرډ ملي ادارې، د کانونو او صنایعو، سوداګرۍ او پانګوني او د کرني او مالدارۍ خونو د رئیسانو په ګډون ترسره سوه. په دې ناسته کي له هر اړخیزو بحثونو وروسته، د کورني صنعت د ملاتړ، کرني او سوداګرۍ د ودي اصل ته په کتو لاندي پرېکړي وسوې، چي د تعرفې له اصولو سره سم به پلي سي.

| شمېره | د توکي نوم | د ګمرکي وارداتي تعرفې مخکینۍ فیصدي | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کاغذي دستمال (ټیشو) | ٪۱٦ | ٪۳۰ |
| ۲ | تشناب کاغذ | ۱۰٪ | ۳۰٪ |
| ۳ | د پخلنځي رول (ټیشو) | ٪۱۰ | ٪۳۰ |
| ۴ | اوسپنیزي دروازې | ۸٪ | ۱۰٪ |
| ۵ | پروفیل | ۸٪ | ۳۰٪ |
| ٦ | پلاستیکي تار | ٪۲،۵ | ۱۰٪ او میاشت بعد ۲۰٪ |

همداشان د ریکشې او زرنج، مطابعو او دفتري پرینټرونو، د جوس او ټیټراپیک کاغذونو په تعرفوي کوډونو کي هم اړین اصلاحات رامنځته سول.

د یادوني وړ ده، چي د تعرفې کمېټې ناستي تردې وړاندي د میعانو په کچه ترسره کېدې، چي د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د ځانګړي هدایت پر بنسټ به د یادي کمېټې د پرېکړو ارزښت ته په کتو د وزیرانو او د مستقلو ادارو د رئیسانو په کچه ترسره کېږي.

## د چنګاښ په میاشت کي د هیواد له ګمرکونو څخه (۱٦٦) ټانکره بې کیفیته نفتي مواد مسترد سوي دي



د مالیې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست، چي د ټاکل سویو معیارونو له مخې هیواد ته د واردېدونکو نفتي موادو کیفیت معلوموي، د روان (۱۴۰۴ هـ.ل) کال د سرطان (چنګاښ) په میاشت کي ئې د هیواد له یو شمېر ګمرکونو څخه (۱٦٦) ټانکره واردېدونکي بې کیفیته نفتي مواد بېرته ګرځولي دي. د مسترد سویو نفتي موادو له ډلي (۱٦۱) ټانکره ډېزل او (۲) ټانکره پیټرول له نیمروز بندر څخه او (۳) ټانکره پیټرول له شېرخان بندر څخه بېرته ګرځول سوي دي. د یادولو ده، چي د مالیې وزارت د نفتي موادو د کیفیت او څارني ریاست د ټاکل سویو معتبرو معیارونو له مخې، هیواد ته د لوړ کیفیت او معیاري نفتي موادو د را واردولو زمینه برابروي او د بې کیفته نفتي موادو له واردولو څخه په کلکه مخنیوی کوي.




د کورني پلټني لوی ریاست پلاوي لوګر، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو ته سفر وکړ

م ۲




د مالیې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (۲٦) شکایتونو ته رسېدنه کړې

م ۲



قابل توجه متقاعدین محترم!

۳سنبله ۱۴۰۴هـ.ش

روند پرداخت حقوق تقاعد از دوم اسد سال روان آغاز شده است و طی مدت یک ماه، روند پرداخت حقوق متقاعدین (۹) اداره تثبیت شده ذیل طی مراحل میگردد.

- آنعده متقاعدین که نام ادارات شان در جدول ذیل موجود نمیباشد، به ریاست عمومی تقاعد مراجعه ننمایند.

| نام اداره | تاریخ شروع | تاریخ ختم |
|---|---|---|
| اداره ملی ستندرد | ۱۴۰۴-۰٦-۰۳ | ۱۴۰۴-۰٦-۰۴ |
| اداره ملی مبارزه با حوادث و آماده گی | ۱۴۰۴-۰٦-۰۵ | ۱۴۰۴-۰٦-۰۷ |
| ریاست عمومی تربیت بدنی و ورزش | ۱۴۰۴-۰٦-۰۸ | ۱۴۰۴-۰٦-۱۱ |
| وزارت امور شهداء و معلولین | ۱۴۰۴-۰٦-۱۲ | ۱۴۰۴-۰٦-۱۴ |
| کمسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی | ۱۴۰۴-۰٦-۱۵ | ۱۴۰۴-۰٦-۱٦ |
| اداره ملی حفظ محیط زیست | ۱۴۰۴-۰٦-۱۷ | ۱۴۰۴-۰٦-۱۹ |
| ریاست عمومی محافظت ارگ | ۱۴۰۴-۰٦-۲۰ | ۱۴۰۴-۰٦-۲۳ |
| شورای امنیت ملی | ۱۴۰۴-۰٦-۲۴ | ۱۴۰۴-۰٦-۲٦ |
| وزارت اقتصاد | ۱۴۰۴-۰٦-۲۷ | ۱۴۰۴-۰٦-۳۱ |

- جدول زمان بندی ادارات متباقی به تاریخ (۲۵) سنبله سال روان اعلام میگردد.

قابل توجه متقاعدین محترم

م ۳




بورد حل منازعات مالیاتی به ۴۱ منازعه مالیاتی رسیدگی نموده

م ۳



د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي پلاوي د بلخ، آقینې او کندوز ولایت د ګمرکونو بهرنۍ ټرانزیټ و ارزاوه

م ۲



قزاقستان د اوروسیا له اقتصادي اتحادیې څخه د افغانستان له لاري پاکستان ته د اورګاډي پروژې د ادغام غوښتنه وکړه

م ٤

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه

## د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي پلاوي د بلخ، آقینې او کندوز ولایت د ګمرکونو بهرنی ټرانزیټ و ارزاوه



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تخنيکي پلاوي بلخ، آقينې او د کندوز ولايت ګمرکونو ته په خپل رسمي سفر کې د ياد ګمرکونو د بهرني ټرانزيټ (T۲) د روان تخنيکي بهير ليدنه او ارزونه وکړه؛ ترڅو سته ستونزي معلومي او د حل له پاره ئې اقدام وسي. ياد پلاوي د بهرني ټرانزيټ په برخه کې د مسئولو کارکوونکو ارزونه هم وکړه او دوی ته ئې په ياده برخه کې عملي او نظري روزنه ورکړه. تللي پلاوي په ورځنيو چارو کې د بلخ، آقينې او کندوز ګمرکونو د مسئولينو ستونزي او وړانديزونه واورېدل او خپلي سپارښتني ئې هم له دوی سره شريکي کړې. د يادوني وړ ده، چې د ګمرکونو لوی رياست له دې وړاندې هم بېلابېلو ګمرکونو ته د ګمرکي طی مراحلو د څارني او ارزوني په موخه تخنيکي پلاوي استولي دي، چې دا لړۍ به په راتلوونکي کې هم دوام ولري.

## د خوست مستوفیت کارکوونکو ته ۲۳ورځنی روزنیز پروګرام پیل سو



د ماليي وزارت د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له تدريسي پلان سره سم د خوست ولايت د مستوفيت کارکوونکو ته د (مسلکي کولو) تر سرليك لاندي (۲۳) ورځنی روزنيز پروګرام پيل سو. د دغه پروګرام په لړ کي به ګډونوالو ته د مجربو روزونکو له لوري مالياتي قوانين، طرزالعملونه، د عوايدو رياست د مسلکي بورډ د پرېکړو تشريح او مالياتي سيستمونه په نظري او عملي بڼه تدريس سي. په ياد پروګرام کي (۴۰) تنو ګډون کړی وو، چي په ترسراوي سره به ئې د خوست مستوفيت کارکوونکو وړتياوي لوړي او کاري پروسو کي به د پام وړ روڼتيا او پرمختګونه رامنځته سي.

## د کورنۍ پلټني لوی ریاست پلاوي لوګر، پکتیا، پکتیکا او خوست ولایتونو ته سفر وکړ

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رياست د عوايدو او ګمرکونو پلټني رئيس ښاغلي مولوي نورالحق نوراني په مشرۍ پلاوي د چارو د هر اړخيزي ارزوني په موخه لوګر، پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو ته سفر وکړ او هلته ئې د مستوفيتونو په ګډون د پکتيا، پکتيکا او خوست ولايتونو له ګمرکونو څخه په جلا توګه ليدنه وکړه او د پلټونکو له لوري د ورکړل سويو اصلاحي سپارښتنو تطبيق ئې تعقيب کړ. د کورنۍ پلټني لوی رياست پلاوي د جلا




ناستو په ترڅ کي د يادو ادارو له مسئولينو سره په خبرو کي د دې رياست د پلټونکو او همدارنګه د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست اړوند د پلټني معاونيت د پلټونکو له لوري د ورکړل سويو سپارښتنو پر تطبيق ټينګار وکړ، د دوی پوښتنو ته ئې ځوابونه وويل او د هغو مواردو په اړه، چي يادو ادارو ملاحظات لرل لازم وضاحت ورکړ. پلاوي له اړوندو مسئولينو څخه وغوښتل، چي د پلټني د اغېزمنتوب او چارو د سمون په موخه د پلټني سپارښتني پر ټاکلي وخت تطبيق او راپور ئې د کورنۍ پلټني له لوی رياست سره شريك کړي.

## د ماليې وزارت د شکایتونو اورېدو آمریت (٢٦) شکایتونو ته رسېدنه کړې ده

د ماليې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رياست د شکايتونو اورېدو آمريت د دغه وزارت اړوند ټولو شکايتونو؛ لکه: فساد، کم کاري، کار ځنډوني او د يو شمېر مسئولينو ناسم چلند ته د رسېدني مسئوليت په غاړه لري او ترلاسه سويو شکايتونو ته له ځنډ پرته رسېدنه کوي. دغه آمريت د روان (۱۴۰۴) کال زمري مياشتي په اوږدو کي په ټوله کي (۳۰) شکايتونه ترلاسه کړي او اورېدلي دي، چي له دې ډلي څخه (۲۶) شکايتونو ته رسېدنه سوې، (۲) تر کار لاندي دي او (۲) نور شکايتونه د کافي معلوماتو او شکايت کوونکو له لوري د اثباتيه اسنادو د نشتون له امله د دغي اداري لخوا بې بنسته ګڼل سوي دي.

له دې ډلي (۲۰) شکايتونه د وټس اپ له لاري، (۲) د ټيليفون له لاري، (۷) شکايتونه په حضوري بڼه او (۱) شکايت د شکايتي صندوق له لاري له دې آمريت سره شريك سوي دي، چي ياد شکايتونه د املاکو، تدارکاتو، مالي او منفکې په برخو کي ول، چي د دغه آمريت له لوري پر وخت رسېدنه ورته سوې ده. د يادوني وړ ده، چي ټول هيوادوال کولای سي، چي د ماليې وزارت د بېلابېلو څانګو په څانګړې توګه د عوايدي سرچينو او د ګومارني په برخو کي د اصلاحاتو په تړاو خپل شکايتونه، وړانديزونه او نظريات د برېښناليك، وټس اپ، ټيليفون، په حضوري بڼه او د شکايتونو د صندوق له لاري له دغه آمريت سره شريك کړي، چي د شکايتونو د اورېدو




آمريت به له طبقه بندۍ وروسته دغو شکايتونو ته په شفاف او ټاکلي وخت رسېدنه وکړي.
د اړيکو شمېري: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰
وټس اپ نمبر: ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶
برېښناليك: Officialcomplaints@mof.gov.af

## په تېرو دوو اونیو کي د هیواد په بېلابېلو ولایتونو کي زیاته اندازه قاچاقي توکي نیول سوي دي

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اوونيو کي د هرات، کندهار، نيمروز، فراه او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي په زياته اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کي (۲۷۹۷۶) کيلو ګرامه چاکلېټ، (۷۱۸۴) کيلو ګرامه انساني طبي درمل، (۲۵۵۲) کيلو ګرامه زراعتي درمل، (۳۱۱۹) کيلو ګرامه مالګه، (۷۳۶) کيلو ګرامه پنير، (۲۱۰۰) کيلو ګرامه هګۍ، (۲۷۰) کيلو ګرامه تشي پلاستيکي قطۍ، (۹۶) کيلو ګرامه د چلم مېوه، (۲۸۰) کيلو ګرامه پلاستيکي کځوړي، (۵۰۰) کيلو ګرامه اچار، (۱۶۰) کيلو ګرامه نوې البسه، (۵۶۵) کيلو ګرامه شامپو، (۱۵۰) کيلو ګرامه لوبيا (۴۰۰) کيلو ګرامه د جوسونو پاپيونه او (۷۰) کيلو ګرامه رُب شامل دئ. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي. د يادوني وړ ده، چي د ماليې وزارت د ګرځنده څارني کارکوونکي په ټول هيواد کي ګرځنده څارنه کوي او هيچا ته اجازه نه ورکوي، چي ممنوعه او قاچاقي توکي ولېږدوي.



## د ولایتونو د مستوفیت کارکوونکو له پاره د املاکو د مسلکي کولو روزنیز پروګرام جوړ سو

د ماليې وزارت د کارکوونکو چارو رياست د ولايتونو (۴۰) تنو کارکوونکو ته د املاکو مسلکي کولو تر سرليك لاندي د امارتي املاکو په تړاو روزنيز پرګرام جوړ کړ. په همدې تړاو غونډه، چي د عوايدو او ګمرکونو ملي اکاډمۍ د کنفرانسونو په تالار کي جوړه سوې وه، د املاکو لوی رئيس الحاج حافظ عبدالقادر حقاني، د دعوت او ارشاد رئيس مولوي عبدالهادي سيف الخالد، د روزني او ظرفيت لوړولو آمر مفتي عبدالوهاب عابد او يو شمېر نورو مئسولينو ګډون کړی وو. په پيل کي د کارکوونکو چارو رياست د روزني او ظرفيت لوړولو آمر وويل، چي هغه روزنه چي د کار په جريان او په عملي ډول ترسره کېږي د نظري روزني په پرتله ډېره اغېزمنه او ګټوره ده. د کارکوونکو چارو رياست دا عملي پروګرام د تجربه لرونکو ښوونکو په مټ ستاسو له پاره جوړ کړی دئ؛ نو له دې فرصت څخه د خپلو مهارتونه لوړولو له پاره ګټه پورته کړئ او نظام او خلکو ته د غوره خدمت جوګه سئ. د املاکو لوی رئيس په خپله ويناکي وويل، چي په اسلامي نظام کي مسئوليت د خدمت کولو له پاره يو ښه فرصت دئ. موږ کولای سو د مسئوليت حق په غوره توګه هله ادا کړو، چي موږ ئې په اړه بشپړه پوهه ولرو. د غوره خدمتونو وړاندي کولو له پاره وړتيا او لياقت لازمي امر دئ؛ نو له هغو فرصتونو او اسانتياوو څخه، چي تاسو ته چمتو سوي دي ګټه پورته کړئ او خلکو او نظام ته ګټه ورسوئ. د دعوت او ارشاد رئيس وويل، چي دا پروګرام تاسو ته د غوره خدمتونو وړاندي کولو په موخه چمتو سوی دئ، د خپل ظرفيت او وړتياوو د لوړولو سربېره هڅه وکړئ، چي خپلي دندي په اخلاص ترسره کړئ. ستاسو نيت بايد د خدای رضا ترلاسه کول، د بيت المال ساتنه او د خلکو خدمت کول وي. د يادوني وړ ده، چي دا پروګرام به (۱۰) ورځي دوام وکړي او ګډونوالو ته به پکښې د املاکو د طرزالعملونو، د ملکيتونو د ثبتولو لارښووني، شرطپاڼي، قراردادونو او حمايوي اسنادو، د ترميماتولارښود، د املاکو ډېټابېس، پانګوني، رازداری، د اسلامي نظام ساتنه، د بيت المال ساتنه، ښه چلند او نور مهم او اړوند موضوعات تشرېح سي.

## د ګمرکونو لوی رئیس د کندهار له والي سره ولیدل

د ګمرکونو لوی رئيس الحاج مولوي محمد حامد احمد، چي په رسمي سفر کندهار ولايت ته تللی، هلته ئې د دغه ولايت په مقام کي د کندهار له والي حاجي ملا صاحب سره هم ليدلي. په دې ليدنه کي دواړو لوريو د ګمرکي چارو پر لا ښه کېدو، د سوداګرو د ستونزو پر حلولو او يو شمېر نورو موضوعاتو بحث او خبري وکړې، سربېره پر دې مولوي منصور الحق ذاکر، چي د ماليې وزارت په وړانديز او د رياست الوزراء عالي مقام په منظورۍ د کندهار ګمرک د نوي رئيس په توګه ټاکل سوی د دې سفر په لړ کي د کندهار د والي مرستيال او د ياد ولايت د سوداګرۍ او پانګوني خوني د استازو په حضور کي اړوندو کارکوونکو ته ور وپېژندل سو او په چارو کي د برياليتوب دعا ورته وسوه. د دې ترڅنګ د نوموړي له کارکوونکو او مسئولينو څخه وغوښتل سول، چي له نوي ټاکل سوي رئيس سره په چارو کي هر اړخيزه همکاري وکړي. همدارنګه د کندهار د سوداګرۍ او پانګوني خوني استازي له لوري د ياد ګمرك پخواني رئيس ته د ستاينليك په ورکولو سره د نوموړي د کړنو او فعاليتونو ستاينه هم وسوه. د يادوني وړ ده، چي مولوي منصور الحق ذاکر په ګمرکي چارو کي بشپړه کاري تجربه لري او تر دې وړاندي ئې د ننګرهار ګمرک د رئيس په توګه دنده ترسره کړې ده.

# قابل توجه متقاعدین محترم!

۳سنبله ۱۴۰۴هـ.ش

روند پرداخت حقوق تقاعد از دوم سنبله سال روان آغاز شده است و طی مدت یک ماه، روند پرداخت حقوق متقاعدین (۹) اداره تثبیت شده ذیل طی مراحل میگردد.

- آنعده متقاعدین که نام ادارات شان در جدول ذیل موجود نمیباشد، به ریاست عمومی تقاعد مراجعه ننمایند.

| نام اداره | تاریخ شروع | تاریخ ختم |
|---|---|---|
| اداره ملی ستندرد | ۱۴۰۴-۰٦-۰۳ | ۱۴۰۴-۰٦-۰۴ |
| اداره ملی مبارزه با حوادث و آماده گی | ۱۴۰۴-۰٦-۰۵ | ۱۴۰۴-۰٦-۰۷ |
| ریاست عمومی تربیت بدنی و ورزش | ۱۴۰۴-۰٦-۰۸ | ۱۴۰۴-۰٦-۱۱ |
| وزارت امور شهداء و معلولین | ۱۴۰۴-۰٦-۱۲ | ۱۴۰۴-۰٦-۱۴ |
| کمسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی | ۱۴۰۴-۰٦-۱۵ | ۱۴۰۴-۰٦-۱٦ |
| اداره ملی حفظ محیط زیست | ۱۴۰۴-۰٦-۱۷ | ۱۴۰۴-۰٦-۱۹ |
| ریاست عمومی محافظت ارگ | ۱۴۰۴-۰٦-۲۰ | ۱۴۰۴-۰٦-۲۳ |
| شورای امنیت ملی | ۱۴۰۴-۰٦-۲۴ | ۱۴۰۴-۰٦-۲٦ |
| وزارت اقتصاد | ۱۴۰۴-۰٦-۲۷ | ۱۴۰۴-۰٦-۳۱ |

- جدول زمان بندی ادارات متباقی به تاریخ (۲۵) سنبله سال روان اعلام میگردد.

# بورد حل منازعات مالیاتی به ۴۱ منازعه مالیاتی رسیدگی نموده




بورد حل منازعات مالیاتی وزارت مالیه که از (۵) عضو متخصص تشکیل گردیده جهت حل منازعات مالیاتی و تأمین عدالت مالیاتی، افزایش سطح اطاعت پذیری مالیاتی، اطمینان از تطبیق درست و دقیق قوانین مالیاتی، ایجاد اعتماد میان ادارات مالیاتی و مالیه دهندگان و حمایت از جلب سرمایه گذاری در بخش سکتور خصوصی و کسب رضایت مالیه دهندگان در قسمت پرداخت مالیات فعالیت های مؤثر و مثمر انجام می دهند. بورد حل منازعات مالیاتی در روشنایی با اسناد تقنینی از شروع سال (۱۴۰۴ هـ.ش) تا ماه اسد حدوداً به (۴۱) قضیه مالیاتی رسیدگی نموده است که اکثریت مودیان متعرض از تصامیم بورد ابراز رضایت نموده و مبالغ حکم شده را به بیت المال تحویل داده اند.

قابل یاد آوریست که حل مسلکی و تخنیکی منازعات مالیاتی نتایج دوجانبه در پی دارد یعنی از یک طرف تأثیرات مثبت به بودجه ملی و سیستم محاسباتی وزارت مالیه (مدیریت نقدینگی) داشته، عواید معلق بدست می آید و از سوی دیگر با ایجاد اعتماد میان مالیه دهنده و ادارات مالیاتی سبب کسب رضایت سکتور خصوصی نیز می شود.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# نشست به منظور ترتیب ضمیمه بودجه برای مقروضیت های بانک جهانی دایر گردید

نشستی به منظور ترتیب ضمیمه بودجه برای مقروضیت های بانک جهانی با اشتراک نصرت الله محمود، رئیس عمومی خزاین و حبیب الله حبیب سباوون، رئیس اجرائیه بودجه ملی، محب الله صاحبزاده رئیس محاسبات و روئسای مالی واحد های بودجوی در سالون کنفرانس های خیبر وزارت مالیه دایر گردید.

رئیس عمومی خزاین در سخنان افتاحیه این نشست پیرامون مقروضیت های بانک جهانی معلومات ارائه نموده افزود: در نتیجه ارتباطات و مذاکرات مداوم میان این وزارت و نمایندگان بانک جهانی، آنها قانع گردیدند تا مقروضیت های خویش را در چهار مرحله پرداخت نمایند. وی اضافه نمود که این روند یک گام مهم در راستای بهبود وضعیت مالی کشور بوده که با پرداخت این مقروضیت‌ها، پروژه‌های بزرگ انکشافی از سر گرفته شده، زمینه اشتغال برای مردم فراهم گردیده و تأثیرات مثبتی در رشد اقتصادی کشور به‌میان خواهد آمد.

رئیس اجرائیه بودجه ملی در سخنان خویش گفت، در اثر مذاکرات گوناگون بانک جهانی متعهد به پرداخت طلبات و تضمینات گردیده و اکنون روی میکانیزم چگونگی دریافت آن بحث و تبادل نظر صورت بگیرد. شما باید پروژه های تمویل شده بانک جهانی را با مشخصات کامل آن با وزارت مالیه شریک بسازید تا یک ضمیمه واحد ترتیب و شامل سند بودجه ملی گردد.

رئیس محاسبات طی پریزنتیشنی در مورد نوع تمویل بودجه (اختیاری و غیر اختیاری)، اندازه مقروضیت ها قبل از تثبیت، اندازه مقروضیت ها بعد از تثبیت توسطه کمیته، خواست ها و توقعات وزارت مالیه از واحد های بودجوی معلومات ارائه نموده و خواستار شریک ساختن مقروضیت های بانک جهانی از ادارات بصورت همه جانبه با وزارت مالیه گردید.

# د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې له کشفي زده کړو څخه ۳۳ تنه ساتنمنان فارغ سول

د مالیې وزارت د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې اړوند له تعلیمي ټولۍ څخه (۳۳) تنه ساتنمنان، د مستوفیتونو د قومانداانانو مرستیالان او د کشف مسئولین له لس ورځنیو موندنیزو او کشفي زده کړو څخه فارغ سول.

په همدې تړاو جوړه سوې غونډه کې د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې قوماندان حافظ مولوي محمد نور(عبید) د دفتر او عامه اړیکو مدیر مولوي عبدالحی (حسیني) د پلان او اوپراسیون مدیر حافظ مولوي ریاض‌الله (عبید) د مخابرې او معلوماتي ټکنالوژۍ مدیر مولوي حاجي محمد (صمیم) او ګڼ شمېر نورو مسئولینو او منسوبینو ګډون کړی وو.

د قطعې قوماندان حافظ مولوي محمد نورعبید فارغانو ته په خپلو سپارښتنو کي وویل، چي خپل نیتونه خالص د الله تعالی له پاره وګرځوئ د الله تعالی د احکامو او اسلامي شریعت په رڼا کي اسلامي نظام ته مخلصانه خدمت وکړئ له اختلاف او تعصب څخه ځانونه وساتئ د شفقت وروروولۍ، همکارۍ او احترام پر بنسټ له مراجعینو او ولسونو سره ښه چلند وکړئ.

غونډه فارغانو ته د بریلیکونو په ورکولو او دعایې په ویلو سره پای ته ورسېده.

د یادولو ده، چي دغه لس ورځنی سیمینار د ساتني او ځانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې په هڅو جوړ سوی وو، چي د مسلکي او مجربو روزونکو له خوا ګډونوالو ته د کشفي اصولو په تړاو بشپړ معلومات ورکړل سول.

# هیئت تخنیکی ریاست عمومی گمرکات امور روزمره گمرک محصولی ننگرهار و گمرک تورخم ارزیابی نمود

هیئت تخنیکی تحت ریاست معاون عملیاتی ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه مفتی ضیاء الرحمن فاروقی روند جاری تخنیکی گمرک محصولی ننگرهار و گمرک تورخم ارزیابی و دیدار نمود؛ تا مشکلات موجود شناسایی و برای حل آن اقدام صورت گیرد.

هیئت اعتزامی مشکلات و پیشنهادات مسئولین هر دو گمرک را در مورد طی مراحل گمرکی استماع نموده و توصیه‌های خود را با آنان در میان گذاشت.

هیئت متذکره همچنان تمام کارمندان مسئول گمرکات متذکره را ارزیابی نموده و آموزش‌های عملی و نظری در این زمینه را به آنان داد.

قابل ذکر است که قبل از این نیز ریاست عمومی گمرکات، هیئت‌های تخنیکی را به منظور نظارت و ارزیابی طی مراحل گمرکی به گمرکات مختلف فرستاده که این روند در آینده نیز ادامه خواهد داشت.

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داوطلبی

ریاست عمومی املاک امارتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع مندوی کابل مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل را به شکل آفر سربسته طور جداگانه به اعلان داوطلبی می سپارد، مدت(۱) سال.

۱.دوکان نمبر٥٤ به مساحت ۱۰,۷٥ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۲۰۰۰۰ ) افغانی.

۲. دوکان نمبر٥٥ به مساحت ۹,۲۰ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ١٦١٠٠) افغانی.

۳. دوکان نمبر٥٦ به مساحت ۱۰,٥۰مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٤٨٢٠٠ ) افغانی.

٤.دوکان نمبر٥٧ به مساحت ۱۰ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۷۰۰۰ ) افغانی.

٥.دوکان نمبر٥٨ به مساحت ۱۰مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱۸۱۰۰ ) افغانی.

٦.دوکان نمبر ٦۰ به مساحت ۹,۳٥ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٦٨٠٠٠ ) افغانی.

۷. دوکان نمبر ٦١ به مساحت ۹,۳٥ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۸۰۰۰۰ ) افغانی.

۸.دوکان نمبر ٦٢ به مساحت۱۱,۰۷ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۹۰۰۰۰ ) افغانی.

۹.دوکان نمبر٦٣ به مساحت۱۱,۰۷ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳٥۰۰۰) افغانی.

۱۰.دوکان نمبر٦٤ به مساحت ۱۰,۲٥ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٦٥٢١٠) افغانی.

۱۱.دوکان نمبر٦٥ به مساحت۱۰,٦٦ مترمربع وقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤٧٢٥٠) افغانی.

۱۲. دوکان نمبر٦٦ به مساحت۱۰,۲٥ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۰۰۰۰) افغانی.

۱۳.دوکان نمبر٦٧ به مساحت ۹,٤۳ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۷۳۰۰) افغانی.

۱٤.دوکان نمبر٦٨ به مساحت۹,٤۳ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۲٥۰۰۰) افغانی.

۱٥.دوکان نمبر٦٩ به مساحت۹,٤۳ مترمربع واقع مدینه مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(٤٢٩٠٠) افغانی.

کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,۱۷۷۲٤ ۳٤,٥۱۷٤۱

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق باشند میتوانندد‌ر خواست های شان را از تاریخ۴/ سنبله / ۱۴۰۴ الی۲۴/ سنبله/ ۱۴۰۴) به مدت (۲۱) روز به ریاست عمومی املاک امارتی واقع منزل چهارم تعمیر١٤ منزله سینمای پامیر تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینما پامیر تعمیر۱۴منزله،منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷) . تاریخ مجلس داوطلبی ۲۵/ سنبله / ۱۴۰۴ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر برگزار میگرد.

## اعلان داوطلبی

قرار است مستوفیت هرات ۱۱ در بند دوکان واقع چهاراهی آمریت ملکیت مستوفیت ولایت هرات را بر اساس نرخ کرایه سابقه از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره دهد.}

۱- دوکان نمبر ۱ موازی ۱۸,۳٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۳۷٥۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٢٣ و y-۳۸۰۱۱۷۸

۲- دوکان نمبر ۲ موازی ۱۸,۳٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۳۷٥۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٢٣ و y-۳۸۰۱۱۷۸

۳- دوکان نمبر ۳ موازی ۱۸,۳٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۳۷٥۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٢٣ و y-۳۸۰۱۱۷۸

٤- دوکان نمبر ٤، ٥، ٦ و ۷ موازی ۷۳,٤٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۳۹۰۰۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٢٣ و y-۳۸۰۱۱۷۸

٥- دوکان نمبر ۸ موازی ۱۰,۳٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۹۲۰۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٦٣ و y-۳۸۰۱۱۲٥

٦- دوکان نمبر ۱۱ موازی ۱٤,٥۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۱٥۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٦٣ و y-۳۸۰۱۱۲٥

۷- دوکان نمبر ۱٤ موازی ۱٤,٥۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۱٥۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٦٣ و y-۳۸۰۱۱۲٥

۸- دوکان نمبر ۱٥ موازی ۱٤,٥۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۱٥۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٦٣ و y-۳۸۰۱۱۲٥

۹- دوکان نمبر ۱٦ موازی ۱٤,٥۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٤٤۰۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٦٣ و y-۳۸۰۱۱۲٥

۱۰- دوکان نمبر ۱۸ موازی ۳۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٤٤۰۰) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٦٣ و y-۳۸۰۱۱۲٥

۱۱- دوکان نمبر ۱۹ موازی ۳۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱٤٥۷٥) افغانی. با کوردینات x-٤٢٧١٦٣ و y-۳۸۰۱۱۲٥

بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکان های فوق باشد درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم اعتبار از تاریخ ۳ سنبله سال ۱٤۰٤ الی ۲۳ سنبله سال ۱٤۰٤ به مدیریت عمومی املاک دولتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}

آدرس: مستوفیت ولایت هرات، مدیریت عمومی املاک امارتی

شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

تاریخ مجلس داوطلبی و آفرگشایی ۲٤ سنبله سال ۱٤۰٤ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسئول مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکسپانه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

ربيع الاول ۷-۱٤٤۷ل س | د وږی ۹-۱٤۰۴ل ل | د اگسټ ۳۱-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۴۸ گڼه | ٤ مخيزه



Supreme Leader's Decree Implementation

## General Directorate of Pension Rights Commences 'Process of Paying Pension Rights' for 9 IEA-run Bodies' Retirees

The General Directorate of 'Pension Rights' of MoF commenced the process of paying the rights of retirees according to a regular set schedule in order to better implement the decree (dated: 1446HQ, Issuance no: 12) of supreme leader of IEA, HH Amir al-Momineen (may Allah protect him). In order to facilitate retirees, the Ministry of Finance will implement the rights of civil and military retirees according to a regular set schedule in coordination with the 'Special Court', and related bodies through the Joint Working Center in the General Directorate

- First phase includes retirees from 9 bodies
- Both civilian, military retirees informed
- MoF, Special Court, and related agencies carry out coordination
- Remaining bodies to be announced in less than 1M



of Pension Rights after completing the procedures. In the first phase, the rights of retirees of nine established bodies will be addressed by 'MoF, the Special Pension Court and the related institution' within a period of one month dated from 24/ Aug/ 2025, according to the determined principles, and the established rights will be implemented. In the first phase, retirees from the nine IEA-run bodies "Afghanistan National Standards Authority - ANSA, Afghanistan National Disaster Management Authority - ANDMA, General Directorate of Physical Education & Sports - GDPES, Ministry of Martyrs and Disabled Affairs - MMD, Independent Commission for Administrative Reforms and Civil Services - ICARCS, National Environmental Protection Agency - NEPA, General Directorate of Protection of the Presidential Palace/ Arg - GDPA, The Office of National Security Council – ONSC, and Ministry of Economy – MOEC" will submit their applications to the special court and the process of granting their rights, will be carried out in stages in a work center based on the set principles. It is worth noting that the schedule of the remaining bodies will be announced on 16/ Sep/ 2025, after the completion of the first phase. Retirees from bodies whose institutions are not included in the first phase, are supposed to not apply to the 'General Directorate of Pensions' of MoF.

## MoF Leads 5 Key IEA – Ministers, 5 Other Bodies for Important Decisions on Tariffs of Numerous Items

The fourth meeting of the 'Tariff Committee' for the current year 1404 (Afghan Calendar) was held under the chairmanship of the Minister of Finance, Alhaj Mullah Mohammad Naser Akhund, and was attended by the ministers of the of Industry and Commerce; Agriculture, Irrigation and Livestock; Mines and Petroleum; Economy and Public Health, the authorized representative of the Deputy PM for Economic Affairs; the directors of the Afghanistan National Standards Authority; Chambers of Mines and Industries; Commerce and Investment; and Agriculture and Livestock. After comprehensive discussions in this meeting, decisions were made based on the principles of supporting domestic industry, agriculture and trade growth, which will be implemented in accordance with set principles of tariff.

| No | Items | Previous Tariff | New Tariff |
|---|---|---|---|
| 1. | Tissue paper | 16% | 30% |
| 2. | Toilet paper | 10% | 30% |
| 3. | Kitchen tissue roll | 10% | 30% |
| 4. | Iron doors | 8% | 10% |
| 5. | Profile | 8% | 30% |
| 6. | Plastic string | 2.5% | 10%, after a month 20% |

Likewise, necessary reforms have been made in the tariff codes of rickshaws and Zarange motorcycles, printing presses and office printers, and juice and tetra pack paper as well. Notably, the meetings of the 'Tariff Committee' were previously held at the level of deputies. However based on the special guidance of the supreme leader of IEA Amir al-Momineen HH Hibatullah Akhunzada (may Allah protect him), the meetings will be held at the level of ministers and directors of independent bodies, considering the importance of the decisions of the aforementioned committee.




## قزاقستان د اوروسيا له اقتصادي اتحاديې څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د اورګاډي پروژې د ادغام غوښته وکړه



د تاس ـ TASS په نوم روسي خبري اژانس په یوه تازه راپور کې راغلي دي، چې د قزاقستان لومړي وزیر اُولژاس بېکتېنوف د یوریشیا بین الحکومتي شورا په غونډه کې وړاندیز وکړ، چې د اوروسیا اقتصادي اتحادیه ـ EAEU باید بدیلي ټرانسپورټي لارې جوړې کړي. نوموړي د بدیلو مسیرونو په تړاو دا ټکی ور اضافه کړی دئ، چې وايي اتحادیه دې د افغانستان له لارې پاکستان ته د اُورګاډي پټلۍ پروژه ور سره ضم کړي. ښاغلي اُولژاس ویلي دي، چې وايي په کار ده د «تورغونډۍ ـ هرات» اُورګاډي پروژې ته پام وکړو، کوم چې دا پټلۍ تر کراچي پورې د (۱۰) میلیونو ټنو پورې د کارګو ټرانسپورټ ظرفیت لري. قزاقي لومړی وزیر زیاتوي، چې د «شمال – جنوب» په نوم د نړیوال ټرانسپورټي دهلېز ارزښت هر کال زیاتېږي.

### په امارتي ادارو کې د ماليې وزارت اړوند کنټرولرانو د چارو ارزونه وسوه

د امر بالمعروف نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت د دعوت او ارشاد د چارو سمون لوی ریاست د شفاهي هدایت او د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د (۵۱۸۹۲۰) ګڼې او (۱۴۴۵/۲/۱۵) نېټې مکتوب پر اساس د مالیې وزارت اړوند کنټرولرانو ته خبر ورکول سوی وو، چې دوی په هره اداره کې کار کوي د هماغې ادارې د دعوت او ارشاد ریاست په درسونو کې به ګډون کوي، د جماعت د لمانځه پابندي به کوي او د یاد ریاست اړوند نور هدایات به په احسن او شرعي بڼه پلي کوي، چې وروسته به د هري ادارې د دعوت او ارشاد ریاست د یادو مواردو د عملي کېدو په تړاو د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست ته رسماً ډاډ ورکوي. په همدې اساس، په امارتي ادارو کې د مالیې وزارت اړوند کنټرولرانو له خوا د دعوت او ارشاد ریاست په درسونو کې د ګډون، لمانځه ته د پابندۍ او د یاد ریاست نورو هدایاتو د پلي کولو په تړاو د هري ادارې د دعوت او ارشاد ریاست له خوا د مالیې وزارت دعوت او ارشاد ریاست ته په رسمي بڼه اطمینانیه مکتوبونه استول سوي، چې له مخې به ئې د مالیې وزارت اړوند ټول کنټرولران د اسلامي شریعت په رڼا او د دعوت او ارشاد ریاست له هدایاتو سره سم خپلې چارې پرمخ وړي او یاد سوي موارد به په احسنه توګه پلي کوي.

د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
(+۹۳) ۰۷۴۵۷۶۵۷۵۶/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af